مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۳/۱۲/۲۷

د لنډیو پر ټټر باندې د کډوالۍ انځور

۲۲مه برخه

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

۲۴۱مه برخه

پر زړه مې سل داغونه بار دی
پردې وطن کې هسې داړې جینګومه

په بل وطن کې واک د بل وي
هرڅه په سوال دي، هسې ورځې تېرومه

داسې ظلمونه خو څوک نه کړي
ډېر دې بېکوره کړل ازار درته کوینه

له ګاونډیو هېوادونو (ایران ـ پاکستان) څخه د افغانکډوالو په زوره شړلو لړۍ ورځ تربلې ګړندۍ کېږي. افغانستان ته له دواړو هېوادونو څخه راشړل شوي ګډوال د یادو هېوادونو د امنیتي مقاماتو د ناوړه او غیرانساني چلن ترڅنګ، یو شمېر نور شکایتونه هم کوي، د تاند په یوه رپوټ کې دې ناخوالو ته داسې اشاره شوې ده:

«تاند (پنجشنبه، د قوس ۹ مه) له پاکستانه د سلګونه زره افغان کډوالو د اېستو له روان بهیر سره هم مهاله، ایران هم د افغان کډوالو د اېستو نښې نښانې ښودلې.

د دغه هېواد د کورنیو چارو وزیر احمد وحیدي په خپلو تازه څرګندونو کې له طالب چارواکو غوښتې چې خپل هېواد ته د افغان کډوالو د ستنولو شرایط برابر کړي.

نوموړي له زیاتو جزییاتو پرته ویلې چې ایران د شاوخوا ۵ میلیونه افغان کډوالو کوربه دی.

د ده په وینا، په دغو کډوالو کې یوه برخه یې په قانوني او بله یې په غیر قانوني ډول ایران کې مېشت دي.
نوموړي د غیر قانوني کډوالو پر ستنولو ټینګار کړی خو دقیق شمېر یې نه دی ښودلی.

مخکې د دغو غیر قانوني کډوالو شمېر هم تر دوه میلیونو زیات اټکل شوی و.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ایران سره له دې چې اوس هم هره ورځ زرګونه افغان کډوال په زوره باسي او ځواکونه یې دغو کډوالو سره د وهلو او لوټ تالان تر حده په ناوړه چلند تورنیږي، خو بیا هم په ناقانونه ډول د افغان کډوالو د ورتلو لښکر ور مات دی.

طالب چارواکو د ایران د غوښتنې په اړه څه نه دي ویلي...

له اقتصادي او بشری ناورین سره مخامخ افغانستان، په وروستیو کې له پاکستانه د کډوالو د اېستو له بهیر سره نور هم فقیر او ځپل شوی.

اندېښنه ده چې که ایران هم ورته ګام واخلي، د افغانستان اقتصادي او ټولنیز شرایط به نور هم ورسره ترینګلي شي.»

نورو هېوادوالو هم د ګاونډیو مسلمانو؟ هېوادونو (ایران او پاکستان) د ظلمونو نقاشیانې په خپلو ذهنونو کې نقاشي کړېدي، څو بېلګې یې د لنډیو په قالب کې دا دی:

بل کال به ګورو چې څه کېږي
خواري کوو، بری راځي په زحمتونه

وطن ته ځم دا مې وعده ده
بیا به یاد نه کړم د پردیو جنتونه

وطن ته ځم، وطن کې اوسم
بیا به ونه‌وزم که څه ډېر وي زحمتونه

زه درنه لاړمه وطن ته
زما همځولي راپسې دي رابه‌شینه

کډوالو ژر راشئ وطن ته
ترڅو به اورئ د پردیو پېغورونه

د مهاجرو دې خدای مل شي
چې هرخوا مخ کړي، ګډوډ یې وي کارونه

په پردي ښار ګوزاره سخته
سړه توده د خپل وطن مزه کوینه

پر زړه مې سل داغونه بار دی
پردي وطن کې هسې داړې جینګومه

په بل وطن کې واک د بل وي
هرڅه په سوال دي، هسې ورځې تېرومه

که ټول ایران زما په نوم شي
وربه یې نه‌کړم د وطن په خړ ډاګونه

اوس باید ټول سره یوځای شو
نفاق مو څو نسلونه بیا بربادوینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وطن پردیو راته وران کړ
په ناپوهئ پر نورو مه‌کړئ باورونه

پنجابه ظلم دې نوربس کړه
د مهاجرو به درپسې شي ازارونه

چې ډله‌ایز شړل شروع شول
منډې شوې، غږ شو چې موږ ټول وطن ته ځونه

داسې ظلمونه خو څوک نه کړي
ډېر دې بې‌کوره کړل ازار درته کوینه

که ټول لاهور زما په نوم شي
په خپل وطن پسې به وکړم فریادونه

زما گاونډ د دوښمن یار دی
ما ته تور مار دی چیچل کاندي په نښونه

که څوک مې بند په زولنو کړي
ژر به ځان خلاص او برابر وطن ته ځمه

که مهاجر یې یا کډوال یې
ستونزې گالې بیا دې هم لوړ دي همتونه

که سل کلونه بل ځای تېر کړې
د وطن یاد دې بیا هم زړه ازاروینه

جهان دروغ گڼله خلکو
داسې ښکارېږي تا ریښتیا له مُلک شړینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ